دافغانســتان اسلامی جمـهوري دولت
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون

دولت جمـهوری اسلامـــی افغانستان
کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتـــی

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Electoral Complaints Commission

پرله پسې شمېره ۱۲٤

نېټه /۱۷/ ۷ / ۱۳۹۳

## د سرپل ولایت د ولایتي شورا د کاندیدانو د شکایتونو په اړه وروستی پرېکړه

د ۱۳۹۳ کال د ولایتي شوراګانو له ټاکنو وروسته د ټاکنو د قانون د ۶۳ مې مادې د (۲ ) فقرې او د ټاکنیزو شکایتونو او اعتراضونو د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۶ مې مادې د حکم پر بنسټ د سرپل ولایت په انتخاباتي حوزې پورې اړوند ۱۲ ) مورده ټاکنیز شکایتونه د انتخاباتي شکایتونو په خپلواک کمیسیون کې ثبت شوي دي. د دې شکایتونو له جملې څخه ( ۱۰ ) مورده یې د ټاکنو د ورځې د تخلفاتو او درغلیو اړوند وو، چې د رایې ورکولو پر مهال او د ټاکنو د ترسره کېدو له ورځې وروسته د ۴۸ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو او د هغو د استازو له خوا د ټاکنیزو شکایتونو په خپلواک کمیسیون کې ثبت شوي او (۲ ) شکایتونه د لومړنیو پایلو په اړه وو، چې د پایلو تر اعلان وروسته د ټاکنیزو شکایتونو د ثبت او رسیده ګی د طرزالعمل د ۱۴مې مادې له مخې د ۲۴ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو له خوا ثبت شوي دي.

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ثبت شوي شکایتونه د انتخاباتو د قانون د ۶۶ مې مادې د (۱) فقرې، د ذکرشوي قانون د ۶۳ مې مادې د (۲) فقرې او د ټاکنیزو کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۶ مادې د (۸) فقرې او د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۳۰ مې مادې پر بنسټ د ۱۵ / ۳ / ۱۳۹۳ نېټې په علني غونډه کې، چې د انتخاباتي کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۴ مې مادې د (۳) فقرې او د ثبت او رسیده ګی طرزالعمل د ۲۴ مې مادې حکمونوته په پام سره دکاندیدانو، سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او ټولیزو رسنیو د استازو او د ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو په حضور کې وڅېړل او د معترضینو د ټولو شکایتونو له اورېدو وروسته یې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۱ ) فقرې پر بنسټ د ټاکنیزې حوزې په کچه د شکایت کوونکو کاندیدانو په غوښتنه د هغو انتخاباتي محلونو د رایو د تفتیش او بیاشمېرلو تصمیم ونیوه، چې په اړه یې شکایتونه ثبت شوي دي.

د سرپل ولایت د ولایتي شورا د رایو د محلونو د تفتیش چارې د ټاکنو د قانون د ۵۵ مې مادې د حکم په رعایت سره په لومړنیو پایلو کې د ټاکنو د کمیسیون له خوا د بریالیو اعلان شویو او معترضو کاندیدانو تر څارنې لاندې ترسره شوې.

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د ا ثباتیه مدارکو د نه موجودیت په اساس د ولایتي شورا په ټاکنو باندې د ټولو ثبت شویو شکایتونو په رد او د ذکر شوي ولا یت د ولایتي شورا د ابتدائي پایلو د تائید پرېکړه وکړه.

دافغانســتان اسلامی جمـهوري دولت
د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون

دولت جمهـوری اسلامـــی افغانستان
کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتـــی

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Electoral Complaints Commission

د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کميسيون دارالانشاء موظفه ده، چې دا فيصله د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۳) فقرې او د ذکرشوي قانون د ۶۶ مې مادې د (۴) فقرې د حکم پر بنسټ د تطبيق لپاره د ټاکنو خپلواک کميسيون ته رسماً ابلاغ او د اجراء په اړه يې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون ته رپوټ ورکړي.

عزيزالله آريافر غړی

پيغمبر قل دوغن غړی

محمد نادر محسنی منشي

ريدا عظيمی مرستياله

عبدالستار سعادت
رئيس

پته: کابل، نهمه ناحيه، د شش درک گولايي، کور نمبر 1 او2
دټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون

Add: Kabul, Shash- Darak opposite Askari Club
Independent Electoral Complaints Office.